انجينر سيدعبدالقادر

۰۹ سپتمبر ۲۰۱۴

# دهيواد پيښى دشرايطوزيږ نده دى

ځوورځى د مخه دپغمان پرلويه لار ه دشپى ناوخته يوه نا وړه پيښه رامنځته سول۰ په دى پيښه کى د غلو ديوى ډلى له خواچه دپوليسوپه جا مو با ندى ملبس وه ، د واده څخه دراوتونکوځوکورنيو موټريى درولى ، پرغلا سربيره يى د اسلامى اوافغانى کلتور څخه ليرى ځوکسو، پرځوښځو باندى جنسى تيرى هم ترسره کړيدى۰ د کابل امنيتى چارواکو او رسنيو د دى  پيښى په وړاندى کلک غبرګونونه ښکاره کړيدى۰ کورنى رسنىځکه دحاکميت هم ږغه سولى ، چه دوى تولده ددولت په انحصا ر کى قرار لر،اوهيڅ وخت يى ونکړاى  سواى چه واقعيتونه را ميدان ته کړى۰سوال دادى، چه ولى يواځى ددى پيښى په اړوند داسى سخت غبرګو نونه ښکاره  سوى دى۰ ايا دا لمړنى دجنسى تيرى پيښه ده، اوکه نورى داسى پيښى هم په مرکزاوولايتوتوکى ترسره سوى دى؟ واقعيت خودادى چه داپيښه  نه لمړنى ده، اونه به ورستنى پيښه وى۰ داځکه چه  په اصطلاح د( جهادى تنظيمى) کورنيوجګړو اوددوى دحاکميت راهيسى په هيوادکى دا ناوړه پيښي شروع سوى، اوپه ځانګړى  توګه دغربى نړى داشغال په تيرو(۱۳) کلونو کى دا داسلام او افغانيت ضد کلتورډيرزوراخستى اوهره ورځ دهيواد په ګوټ ، ګوټ کى تردى هم نا وړه پيښى را منځ ته سوى اوکيږى ۰ ددى پيښو نيژدى ( ۹۰فيصده) په يوه اوبل ډول په هم دى تنظيمى ګروپونوپورى اړه لرى۰ دا ځکه چه دا تظيمونه دهم دا سى غړو اوګرپونوڅخه جوړسوى دى۰

ددى تنظيمونو تکيه اوبقاهم دامسلح ګروپونه دى، چه د ولس داقتصادى ستنځوڅخه په ناوړه ګټه اخيستنه يى يو شميرځوانان په دى تنظيمى ګرپونو کى ځاى پرځاى کړى دى، چه ددوى په زورداتنظيمى رهبران دملى شتمنيو په چوررولو باندى د سلګونومليونونوډالروخاوندان سوى دى۰  په دى پيښه کى د کرزى مداخله اوبيا ددى پيښى دمتهمينو سره دهغوى داعدامولو په اړوند دده ځانګړى علاقه په اتوماتيک ډول ولس ودى نتيجى ته رسوى ، چه کرزى غواړى چه د ځونفرو په اعدام سره دا موضوع دخلګو دذهن څخه ليرى کړى، ځو د دى پيښى اصلى عاملين چه دتحقيق په پايله معلوميږى، دخلګو څخه پټ وساتى ، ځکه نونيمګړى تحقيق ترسره کوى۰ داسى معلوميږى  چه ددى نيمګړى تحقيق په پايله کى به پردوى باندى  ټوله  محکمى خپلى پريکړى کوى۰چه دانونه يواځى دشريعت څخه ليرى عمل دى، بلکه دلاسپوڅى حاکميت د اساسى قانون څخه هم ښکاره سرغړونه ده، ډيره دلچسپه لا داده چه سياف هم ددى کسانو داعدام غوښتنه وکړه، چه د ده داعجلى ولس نورهم پر تحقيق باندى شکمن کړ۰ (دابتدايى محکمى دا قاضى (صيف الله مجددى هم د ولس له خواپه رشوت اخيستنه باندى متهم دى، چه داقاضى د(۷) کلنو په موده کښى په کابل اوډوبى کى د ځومليونوډالروپه ارزښت ځوکورونه اخستى دى).

کرزی که په ریښتینه توګه دغلا، چور، اوجنسی تیری مخالف وای، نووده ته نیژدی دپل چرخی په بندی خانه کی به ښځه په زورباندی نه حامله کیدلای، چه دری کاله مخ کی د پلچرخی دبندیخانی ځخه دولسی جرګی دیوه ښځینه پلا وی دلیدو پروخت داپیښه رسوا، کمیسون ورته وټا کل سوو، ولی پایله ورکه سول٠ شاید پرډیرو نوروښځو باندی به هم دا حالت په مرکز اوولا یتو نوکی را غلی وی، ولی په دی جنایت کار دولت کی د پیښواصلی عاملین ددی پیښی په ځیر پټ ساتل کیږی ٠پورتنۍ پیښه پرهغه لاره سوی ده کوم چه ددی لاری شاوخوا نیژدی ټوله دولتی مځکی دسیاف دیوه ګروپ دمشرملا عزت له خوا قبضه سوی اولیلام سوی دی٠ د قرغی په بندپوری اړوند دولتی مځکی چه (۷۰۰)هکتاره کیږی اوپه کاډسټرکی هم په رسمی ډول ثبت دی، دسیاف جنایتکارتنظیم لاسونه پرراګرځولی اونیژ دی (۹۰فیصده) یی تراوسه پوری پلورلی ده ٠حتا یوهکتاریی په یو میلیون ډالرو باندی هم پلورل سوی دی٠ دقرغی دبند دسپوږمی هوټل ته نیژدی یو ځو کا نتینری یو اطاقه دعیاشی لپاره یی هم کورونه جوړکړی دی، چه دیوی شپی قیمت یی۵۰۰ ډالره دی، تیر کال دبی بی سی دتلویزیون له لاری یوفلم ښکا ره سوو، چه کابل کی ډ ک سوی وو، په دی فلم کی یو ایرانی هلک یوه افغانه نجلی ته فریب ورکوی، دقرغی هم دا کورونو ته یی بیایی اوجنسی تیری پرکوی٠ چه ددی فلم په ښکاره کولوسره یی دکابل دښاریانو هغه خبری هم رشتیا کړی کوم چه ددی کورونو چه هکله یی کولی ٠کرزی به حتمی دافلم لیدلی وی ، څنګه چه دی د ولس بد نامی خپله بد نامی نه بولی، ځکه نو ورته بی تفاوته ده ٠

په تیرکال کی دخلګودشکایتونو له کبله کرزی دپخواپه ځیردخلګودغوله ولو له پاره دځارنوالی له خوایو کمیسون وټا کی چه دا د مځکوغصب دنیژدی وګوری٠ورسته معلومه سول چه دارګ ناپاکو چارواکو د قرغی دبند دولتی مځکی هم د نوروځکو په ځیروجهادی جنایت کا رانوو لاسونو ته ازادی پریښولی، داځکه چه کرزی هم ددی لویی اقتصادی مافیا لوی حمایه کونکی دی ٠ چه په تیرو۱۳کلنوکی د ملی شتمنیو لویه برخه دهم دی جنایت کارانو له خوا چور سوی، چه لمړی درجه مسؤول یی هم دا کرزی دی ٠

باید ووایوچه، دځینورسوا سووپیښنو په وړاندی دولتی چارواکودشرمه دخلګودچپتیا له پاره دلږ وخت له پاره غبرګون ښکاره کړی اوپیښه بیر ته پټه سوی ده ٠دطالبانوپه حا کمیت کی د خلګودډ یروستونځو ترڅنګ دا سی ناوړوپیښو بیا هیڅ شتون نه در لودی٠دمرحوم ډاکترنجیبب الله* اومرحوم داودخان په حاکمیتونوکی بیا خلګو د داسو پیښوتصور هم نسوای کولای٠ داځکه چه دهغه وخت دولتی لوړپوړی چارواکی نه یواځی په بداخلاقیوباندی متهم نه وه ، بلکه په اقتصادی جنایاتوباندی یی هم لاسونه ککړ نه وه ٠اودولس په شتمنیوباندی یی په هیواد اوبهر کی بلډنګو نه هم نه درلودل، ځکه نودکورنیۍ ټول غړی یی په خپل هیواد کی ژوند کاوه، او هغوی داوطن خپل بلی، اودولس هره بد نا می یی دځان بد نامی بلل٠

ولی اوسنی تنظیمی اوتکنو کراتی په اقتصادی جنایاتوککړ چارواکی بیاپا سپورټونه په لاس کی اودامریکایی اشغالی قوواوودوتلو سره سم دوی هم تښتی، او دا وطن خپل وطن نه بولی، ځکه دکورنی ټول غړی یی په بهر کی ژوند کوی د دوی په حاکمیت کی داسی جنایتونه تر سره سوی دی، چه دافغا نستان تاریخ یی په خپلو پا ڼو کی نه لری٠زه به دلته ددوی ترحاکمیت لاندی دپورتنۍ پیښی په ځیر دزرګونو ډیروبدو پیښودجملی څخه یوا ځی یو ځو، دبیلګی په توګه دلته ولیکم ، قضاوت یی بیا په لوستونکو پوری اړه لری، چه څنګه اوکو مه لا ره ورته ټاکی ، چه دا اسیر اولاس تړلی ولس ددی جنایت کا رانو څخه خلا ص کړی.

دبیلګي په ډول د۲۰۱۲ کال دروژي مبارکي میاشتي په لومړي ورځو کی دهلمند په ولایت کي دوي معصومي خویندي (۱۷ کلنه او ۱۳ کلنه) دیوه جنایتکار ترجمان له خوا تښتول سوي او دیرغلګرو پوځي اډي ته یي بیولي وی، هلته یي داسلامیت ، انسانیت ، او شرافت څخه لیري تر جنسي تیري لاندي راوستلي او ۲۴ ساعته وروسته یي بیرته خوشي کړي او بیرته خپل کورته ولاړي ٠ کوم وخت چی مور او پلاریي دا دوحشت ډکه صحنه ولیدله، نوریي هیڅ په توان

کي نه وه ، او خپل ټوپک يي راواخيستي او خپلي دواړي لوڼني په شهادت ورسولي ۰ امنيتي ځواکونه چی ددې پيښي څخه خبرسول نو سم دلاسه يي د دغو نجونو پلار ونيوي او زندان ته يي واچوي ۰د دې اجيروپوليسو قومندان په ډير افتخار دژورنالستانو په وړاندي وويل، چی دا قاتل مو نيولي ، او د ولس دتيروتلو له پاره هم وويل چی دترجمان دنيولو په لټه کي يو ۰ ولي نوره دا قضيه بيا پټه وساتل سوله اوکرزی هيڅ ځان هم پوه نه کړ چه داڅه پيښه ده ۰
څو مياشتي تر مخه د (هلال احمر) مشرتابه په خپلو څرګندونو کي وويل چی زموږ اداري ته پرافغانانو باندي د بهرنيو ځواکونود ( ديرشو ) جنسي تيريو پيښي خبر راغلي دي ، ولي شايد دا پيښي به ډيري وي ، ولي ولسي خلک دشرمه او غيرته موږ ته خبر نه راکوي ۰ دلته بياکرزی دځان د ګټی دپاره چپتيا ښه بللی ده۰ بايد ووايو چی د مملکت په مختليفو ګوټونو کي داسي ورځ کمي ليدل سوي دي چی جنګ سالاران دي پر ماشومانو ( انجونو ، هلکانو ) باندي جنسي تيري نه وي کړي ، ولي هيڅوک تر اوسه مجازات سوي هم نه دي ، او دا دوحشت څخه د ډکو پيښو لړۍ دګوډاګي رژيم تر سيوري لاندي دهيواد په مختليفو سيمو په ځانګړي توګه په شمالي صفحاتو کي په ډير شدت اوبيله ويري مخ ته ځي ، حتا دبي سرپرستو ماشومانو استوګن ځايونه ( پرورشګاه وطن ) ته هم دوي لاره پيدا کړي او دشپي له خوا په يوه او بل ډول داماشومان دجنسي تيري له پاره خپلو کورونو ته بيايي ۰په دی اړوند دوه کا له مخ کی دبی بی سی يوه ژور ناليست دبلخ دولايت څخه چه ديوه دکاندار سره يی په داسی حال کی مصاحبه کړيوه چی دبلخ د (وطن پرورشګاه) ترڅنګ يی دکان کاوه، او هغه ورته ويلی وه ،چه هره شپه ناوخته دمسلحو کسانو دوه موټره دلته راځی اوددی پرورشګاه څخه۱۲ـ۱۴ کلنی نجونی بيا يی اوسهاروختی يی بيرته راولی ۰او ياهم دشيرپورهغه تاريخی سيمه چه د وزيرمحمد اکبرخان په ذريعه د استعماری برتانيا ويسرا(ميکناټن) پکښی وژل سوی ، اونيژدی ديوی نيم پيړی راهيسی يوه پوځی کلتوری سيمه وه، دی جنايت کارانو دامريکايی اشغال په زوربانديی داسيمه ونيول، او د ملی شتمنيو د چور په پيسو باندی يی لوکس تعميرونه پکښی جوړکړل اوپه ځينو تعميرونو کی بيا دبد لمنيو(فاحيشه خانی) جوړی سوی، چه دچين څخه يی په لسګونه نجونی ورته راوغوښتل سوی، چه ددی لاری څخه هم ځينوچاروا ډيری نامشروع پيسی ترلاسه کړی، چه په دی هکله بی بی سی دپوليسو دلسمی حوزی د مسؤول سره خبری وکړی اوهغه ورته وويل چه، ددی کورونو خاوندان لوړ پوړی چارواکی دی او ماته اخطارونه راکوی چه که دافاحشه خانی بندی کړی، نه يوازی ژوند به دی په خطر کی ولويږی بلکی ددی هر کور کرايه چه(۱۲۰۰۰) ډالره کيږی هم بايد وموږته راکړی۰
په دی وخت کی بيا داسلامی جمهوريت ريس چپ ناست وو۰ کرزی دولس دتيروتلو له پاره دشيرپور دسيمی د يوی بيسوی قيمت يولس زره ډالره وټاکی اوښارنوالی ته يی وظيفه ورکړل چه دشپږو مياشتو په درشل کی دا ټوله پيسی ځنی واخلی ۰دی جنايتکرانو يوه غونډه جوړه کړل ، اوپه لوړ اواز يی دتکبيرناری وکړی اوبيا يی وويل چه، موږ مجاهدين يو پيسی مو ورکړيدی۰په هم دی نارو سره نوره دا تاريخی مځکه دهم دی جنايتکارا نوسول۰ دا ټوله داشغال هغه ناوړي پايلي دي چی په اوس مهال کي افغان ولس ورسره مخامخ دي ۰
دليکنی په ورستی برخه کی با يدووايو چه، که ددی جناياتو اصلی عاملين چه دتنظيمونو لمړی، دوهمه او دريمه قدمه غړولاسونه دمحکمی وميز ته راکش نه سی، نو دادچور ، چپاول او جنسی تيريو لړۍ به هم داسی روا نه وی ، اوډيرځله به دداسی وحشتونواومخدره توکو قربانيان به بيوسه اوبيواسطی خلګ وی۰تمت بالخير
۲۰۱۴ـ۹ـ۸

**يادداشت:**

*- شاید بتوان تا حدی با این ادعا، که چنین تجاوز دسته جمعیی در زمان داوود خان وجود نداشته، با اغماض زیاد زندگانی نمود، اما این که تجاوزات جنسی در زمان تره کی، ، امین، ببرک و نجیب وجود نداشته است، گذشته از آن که تحریف تاریخ است، نقش آن وطن فروشان را در ترویج سیستماتیک فحشاء نیز نادیده گرفتن می باشد.

تجاوز جنسی که به استناد نوشتۀ جنرال ماریوف، سرقومندان اعلی رژیم اشغالگر شوروری در افغانستان، به مقیاس بزرگتر از اکنون در جلال آباد به وسیلۀ سربازان روسی اتفاق افتاد و شخص جلاد خاد یعنی داکتر نجیب، سخت تلاش نمود تا قربانیان را بزهکار نشانداده و از بادارانش دفاع نماید؛ در تداوم حاکمیت باند های مزدور روسی، شکل سیستماتیک تری به خود گرفته، تمام گروپهای ملیشه از دوستم گرفته تا عصمت مسلم و سایران، به ده ها بار در زیر سایۀ حاکمیت مزدوران روس دست به چنین جنایاتی زده اند.

ما را اعتقاد بر آن است که فساد، هرزگی، ارتشاء، ظلم، تعدی و تجاوز جنسی فرهنگیست که استعمار با خود آورده و بر زمین مساعد ارتجاع آن را بارور می سازد، حال این استعمار «سرخ» و از قماش روسی باشد و یا «آبی» از قماش امریکائی، هیچ فرقی در ماهیت آن به وجود نمی آید.

ادارۀ پورتال AA-AA